امیر اهل سنت نه د

# جنّت

## په باره کښې سوال جواب

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

**نوټ:** دا رساله د امیرِ اهلِسنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه نه د جنَّت په باره کښې په شوو سُوالونو او جوابونو مشتمله ده.

# د امیرِ اهلِسنَّت نه د جَنَّت په باره کښې سُوال جواب

**دعائے جانشینِ امیرِ اهلِسنَّت!:** یاالله پاکه! څوک چې دا رساله "**د امیرِ اهلِسنَّت نه د جَنَّت په باره کښې سُوال جواب**" اولولي یا واوري، هغوئي ته جَنَّت ته بوتلونکو نیکو کارونو او د ګناهونو نه د بچ کیدو توفیق نصیب کړې او جَنَّت الفِردوس کښې ئې د خپل آخري نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړ کړې.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## فرمانِ مولا علی مُشکل کُشا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

الله پاک جَنَّت کښې یوه ونه پیدا کړې ده د کومې میوه چې د منړې نه غټه، د انار نه وړه، د کوچو نه نرمه، د شهدو نه خوږه او د مشکو نه زیاته خوشبوداره ده. د دې ونې خاخونه د لمْدو لعلونو، تنې د سرو زرو او پاڼړې د زبرجدو (یعین د قیمتي کانړو) دي. لَا یَاْکُلُ مِنْهَا اِلَّا مَنْ اَکْثَرَ مِنَ الصَّلَاۃِ عَلٰی مُحَمَّدٍ (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د دې ونې میوه به صرف هغه څوک خوړے شي څوک چې په نبـي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کثرت سره درودِ پاک وائي.

(الحاوی للفتاوٰی، 48/2)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب!  صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُوال: جَنَّت څه ته وائي، وضاحت ئې اوکړئ؟ (د سوشل میډیا په ذریعه سُوال)

جواب: د جَنَّت لفظي معنیٰ ده:باغ. زمونږ په عقیده کښې چې کوم جَنَّت دے هغه د الله پاک د نعمتونو لوئ مقام دے. په هغې کښې ډیر داسې نعمتونه دي کوم چې نه چا په سترګو لیدلي دي او نه غوږونو د دې په باره کښې اوریدلي دي. (بخارى، 2/391، حديث: 3244) ❀ جَنَّت به صرف هغه انسانانو ته نصیب کیږي څوک چې د دنیا نه د ایمان سره لاړ شي.❀ په پیریانو کښې هم اکثر چې مسلمانان دي خو جَنَّت صرف د انعام په طور د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د اولاد د پاره دے.[1] ❀ جَنَّت کښې داخلیدونکے به بیا چرې هم د دې نه نه ویستلے کیږي.[2] (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت 15/6)

سوال: آیا جَنَّت آسمانونو کښې دے؟ (محمد حامد عطاري، استنبول)

---

1... اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: یو قول دا هم دے چې (پیریان) به د جنت خواو شا ځایونو کښې اوسیږي، جنت ته به د سیل د پاره راځي. (عمدة القارى، 10 / 645) (بیا فرمائي:) جنت خو جاګیر دے د آدم عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي په اولاد کښې به تقسیمیږي. (ملفوظاتِ اعلٰی حضرت، ص 536)

2... په سیپاره 14 سورةُ الحجر آیت نمبر 48 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي: لَا يَمَسُّهُمْ فِيْهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ مفهوم ترجمهٔ کنز الایمان: نه به هلته هغوئي ته څه تکلیف رسي او نه به د هغې نه ویستلے کیږي-

جواب: جَنَّت د ووه واړو آسمانونو نه بره او دوزخ د ووه واړو زمکو نه ښکته دے. (شرح العقائد النسفيه مع حاشيه جمع الفرائد بانارة شرح العقائد، ص246) جَنَّت ډیر بره او دوزخ ډیر لاندې دے.

الله کریم دې مونږه د ښکته کوزیدو نه بچ کړي او بره پرواز دې را نصیب کړي چې مونږه جَنَّت ته لاړ شو د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قدمونو مُبارکو کښې پریوځو. که په جَنَّت کښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاؤنډ شرف حاصل شو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هر څه به میلاؤ شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 456/6)

سُوال: په دُعا کښې د جَنَّت سُوال کولو او د دوزخ نه پناه غوښتلو څه اَهَمِّیَّت دے؟

جواب: د الله پاک نه د جَنَّت سُوال کول او د دوزخ نه پناه غوښتل سُنَّتِ مُبارَکه دي ځنګه چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منقول اوکړېده دُعا کښې دا الفاظ هم دي:

”وَاَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ اِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ وَّعَمَلٍ

وَّاَعُوْذُبِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ اِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ وَّعَمَل

یعني اے الله! زه ستا نه د جَنَّت او جَنَّت ته د نزدې کوونکو اعمالو سُوال کووم او د دوزخ او دې ته د نزدې کوونکو اعمالو نه ستا پناه غواړم.“

ځکه مونږه له هم پکار دي چې هره ورځ کم نه کم درې درې ځله

د الله پاک نه جَنَّت ته د داخلیدلو او د دوزخ نه د بچ کیدلو دُعا اوکړو. د الله پاک د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: څوک چې د الله پاک نه درې ځله د جَنَّت سوال کوي نو جَنَّت وائي: "یا الله پاکه! دا جَنَّت ته داخل کړې." او څوک چې درې ځله د دوزخ نه پناه غواړي نو دوزخ وائي: " اے الله پاکه! ده ته د دوزخ نه پناه ورکړې. (ترمذی، 257/4، حدیث: 2581)

خوږو اسلامي ورونړو! یاد ساتئ چې د جَنَّت غوښتلو او د دوزخ نه د پناه دُعا په عربئ کښې کول ضروري نه دي، که په خپله مورنئ ژبه کښې هم هره ورځ درې درې ځله دُعا اوکړئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم! بیان شوے فضیلت به حاصل شي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 132/1)

سُوال: د جَنَّت او د هغې نعمتونه به څنګه وي؟

جواب: په احادیث مبارکؤ کښې زمونږه د پوهه کولو د پاره د جَنَّت مختلف مثالونه بیان شوي دي خو حقیقت دا دے چې جَنَّت اووینو نو پته به لګي ځکه چې د جَنَّت د نعمتونو په باره کښې منقول دي چې نه چا په سترګو لیدلي دي، نه چا په غوږونو اوریدلي دي او نه پرې د چا خیال تیر شوے دے. (مسلم، ص1126، حدیث: 7132) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت ،قسط:248، ص 14)

سُوال: څنګه چې د دنیا په ژوند کښې 12 میاشتې وي نو آیا آخرت یعني د جَنَّت ژوند کښې به هم داسې میاشتې وي؟ (ایکسېر، احسن خان)

جواب: په آخرت کښې د دُنیا په شان نظام نشته. دنیا کښې ګرمي، يخني، میاشتې، هفتې، ورځې او شپې وي، هلته به دا نه وي. جَنَّت کښې به هر وخت سپرلے وي، دنیا کښې چې څنګه د صبحِ صادق وخت وي دغه شان به په جَنَّت کښې هم وي. (تفسیرِ قرطبی، پ29، الدھر، تحت الآیۃ: 13، 100/10) هلته به مچ، ماشي، تیاره، غم او د بدبوئي وغیره په شان هیڅ يو څيز نه وي. هلته خو به صرف خوشحالئ خوشحالئ وي. جنَّتي چې د کوم څيز خواهش لري هغه به ورته میلاويږي. جَنَّت کښې به د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار وي. جَنَّت کښې به جنَّتي کَس ته د ټولو نه لوئ نعمت د الله پاک ديدار میلاويږي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت ،قسط: 234، ص 1)

سُوال: آیا هر مسلمان به جَنَّت ته ځي؟ (سائل: محمد احمد، سډني آسټریلیا)

جواب: آؤ جـي! د چا خاتمه چې په ایمان شوې وي هغه به یقیناً جَنَّت ته ځي، البته بعضې ګنهګاران به الله پاک په خپل رحمت معاف کوي او بعضې به د نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت، څوک به د بزرګانو په شفاعت اوبخښي او بعضې ګنهګاران به د خپلو ګناهونو په وجه دوزخ ته ځي او د عذاب نه پس به جَنَّت ته داخل کړے شي.

خبردار! داسې هیڅ کله مه وائې چې " چې جَنَّت ته تلل دي نو چې بیا هر قسمه ګناه هم اوکړو نو څه مسئله نشته، لږ ډیر عذاب به اوزغمو!" یاد

ساتئ! داسې ویونکے ګَس به همیشه په دوزخ کښې وي ځکه چې هغه د الله پاک عذاب کم ګڼړلے وو او د هغې توهین ئې کړے وو، بیشکه د الله پاک عذاب ډیر خوفناک او د زغملو نه دے، د دې اندازه د دې حدیثِ پاک نه اولګوئ چې که چرې دوزخ د ستن د سورې برابر بیرته کړے شي نو د دنیا ټول خلق به د هغې د ګرمئ او سخا بوئي نه مره شي. (معجم اوسط، 78/2، حدیث: 2583) په دوزخیانو چې به په دوزخ کښې کوم څیز څښلے شي که چرې د هغې یو څاڅکے هم دنیا ته راپریوتو نو د دنیا ټول معیشت، فصلونه او باغونه وغیره هر څیز به تباه شي. (ترمذی، 263/4، حدیث: 2594) لږ غور اوکړئ! چې دوزخ د کروړونو میله لرې کیدلو باوجود د ستنې د سورې برابر بیرته کړے شي نو دومره تباهي به راشي او خلق به مره شي نو چې کوم بنده د لږ ساعت د پاره هم دوزخ ته لاړ شي د هغه به څه حال وي؟ ځکه چې د الله پاک عذاب په خوب کښې هم کم ګڼړل نه دي پکار. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت)

**سُوال:** آیا مسلمان پیریان به هم جَنَّت ته ځي؟

**جواب:** مسلمان پیریان به جنَّت ته ځي یا نه ځي، په دې کښې اختلاف دے، شارِح بُخاري مفتي محمد شریفُ الحق امجدي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: صحیح او راجح دا دي چې دوئي به په اعراف کښې اوسیږي. جَنَّت د آدم عَلَيۡهِ السَّلَام جائیداد دے، صرف د هغوئي اولاد ته به میلاویږي.“ (نُزهةُ القاری،

ج4، ص351) (فيضانِ مدني مذاکره، قسط7، ص9) انسانان به هغوئي ويني خو هغوئي به انسانان نشي ليدے. دا هم وئيلے کيږي، د حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د مومنانو پيريانو (يعني مسلمانانو پيريانو) د پاره ثواب هم دے او د هغوئي د پاره عِقاب (يعني سزا) هم ده. مونږ د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د هغوئي (يعني پيريانو) د ثواب په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئي اوفرمائيل: په اَعراف کښې به وي او هغوئي به د اُمّتِ محّمديه سره جَنَّت کښې نه وي. بيا مونږه پوښتنه اوکړه: اَعراف څه ته وائي؟ نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا د جَنَّت ديوال دے کوم کښې چې نهرونه بهيږي او دې کښې ونې او ميوې راخيژي. يو قول د تَوَقُّف دے، يعني په دې باره کښې دې خاموشي اختيار کړے شي.

(عمدة القارى، 15/252،253، البعث والنشور، ص107، حديث: 108)(ملفوظاتِ اميرِ اهلِسُنَّت، 3/419)

سُوال: آيا يو انسان په خوب کښې جَنَّت ليدلے شي؟

جواب: آؤ جي! بالکل ئې ليدلے شي، دې کښې څه باک دے؟ البته دا طے کول ګران دي چې ليدونکي څه ليدلي دي آيا هغه جَنَّت دے؟ ممکنه ده چې ليدونکي يو بل ښه او ښکلے باغ ليدلے وي او زړه کښې ئې دا خيال راغلے وي چې دا وخت زه په جَنَّت کښې يم. حقيقت کښې به جَنَّت مونږه هغه وخت وينو چې کله آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شاته شاته اِنۡ شَآءَاللہُ

الْكَرِيْم! جَنَّت ته داخل شو، ځکه چې مونږه د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو او جَنَّت د رسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.

د بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم داسې واقعات دي کومو کښې چې هغوئي جنَّتي حورې وغيره ليدلي دي. هم داسې جَنَّت ته د تللو خوبونه کتابونو کښې ليکلے شوي دي خو خوبونه زمونږ د پاره دليل نه دے. په حقيقت کښې چې کومې هستئ جَنَّت او حورې ليدلي دي هغه زمونږ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د جَنَّت سيل کړے وو. د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه علاوه که چا په خوب کښې څه اوليدل نو د هغې په باره کښې يقيني طور دا نه شي وئيل کيدے چې هغه واقعي جَنَّت ليدلے دے. دلته خو عقل هم د جَنَّت اندازه نشي لګولے چې جَنَّت څه څيز دے؟ او هغه څومره اعلیٰ مقام دے؟ ځکه چې عقلونه ناقص دي او د الله پاک د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عقل مُبارَک کامل وو، کامل دے او کامل به وي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 148/2)

سُوال: جنتيانو ته به په جَنَّت کښې د تولو نه وړومبے کوم خوراک ورکړے کيږي؟

جواب: جنتيانو ته به په جَنَّت کښې د تولو نه وړومبے چې کوم خوراک ورکړے کيږي، هغه د مهي (کب) د اينې طرف دے. (بخاری، 412/2، حديث:

3329) د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بركت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! مونږ هم جَنَّت كښې د مهې د اينې طرف خورو. اوس كه څوك دا سوچ كوي چې جَنَّت كښې خو به ډير زيات خلق وي نو دومره ډيرې د اينې طرفونه به د چرته نه راځي نو داسې غلط او ګډوډ سوچ كولو په ځائے د خپل هغه ذات فرمان منل دي د چا چې شان دا دے ﴿اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ البقرة:20﴾، "يعني بيشكه الله هر څه كولے شي." مَعاذَ الله هغه بے وسه نه دے بلكه هغه چې څه اوغواړي كولے شي. (ملفوظاتِ امير اهلِسُنَّت، 365/6)

سُوال: د جَنَّت په باره كښې څه عقيده پكار ده؟ او د جَنَّت نه انكار كول څنګه دي؟

جواب: ياد ساتئ! په جَنَّت ايمان راوړل فرض دي كه چرې څوك د جَنَّت نه انكار اوكړي نو كافر به شي. مونږه په غيبو ايمان راوړے دے قرآن پاک كښې دي: يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ (پ 1، البقرة:3) مفهوم ترجمهٔ كنز الايمان: "په غيبو ئې ايمان راوړے دے." جَنَّت هم يو غيب دے او الله پاک خو غيبُ الغيب دے مونږه په دې ايمان راوړو. (ملفوظاتِ امير اهلِسُنَّت، 149/2)

د بهارِ شريعت، جلد1 ص 152 په حاشيه كښې ليك دي: يعني بے ليدلو ګڼې په ليدلو به خو تاسو هم اوپيژنئ، نو چا چې په دُنياوي ژوند كښې

مُشاهَده اوکړه (یعني جنَّت ئي اولیدلو) هغه د دې حکم نه مُستثنیٰ دے یعني دا حکم هډو هغوئي ته شامِل نه دے، خاص طور صاحِبِ معراج صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 149/2)

یاد ساتئ! چې په جَنَّت ایمان راوړل د دین ضروریاتو نه دي. که چرې څوک اووائي چې جَنَّت نشته دا صرف زمونږه خیالي خبرې دي نو هغه به کافر شي او که چرې هغه د مرګ نه مخکښې توبه اونه کړه نو همیشه به په دوزخ کښې وي. لمُونځ، روژه او نور نیک اَعمال به د هغه هیڅ په کار را نه شي. الله پاک دې د خپل محبوب کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت مونږه ګنهګاران بے حسابه جَنَّت ته داخل کړي.اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 15/6)

سُوال: ”که چرې دنیا کښې ټول دیانتدار وے نو جَنَّت به په دنیا کښې وے“ داسې وئیل څنګه دي؟

جواب: کیدے شي چې د دې نه دا مُراد وي چې که هر طرف اَمن وي او لوټ مار نه کیدے، چا ته تکلیف نه رسیدے او ټول په اَمن سره اوسیدلے نو ګنې داسې کیدل دنیا کښې د جَنَّت په شان دي څنګه چې کشمیر ته وادِي جَنَّت وائي. داسې جملے د محاورې په طور وئیلے کیږي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت ، 319/3)

سُوال: کله چې مونږه سُبْحٰنَ اللّٰه! وایو نو جَنَّت کښې کومه ونه لګي؟

جواب: حدیثِ پاک کښې دي چې جَنَّت کښې د کجورې ونه نالولے کیږي. (ابنِ ماجه، 252/4، حدیث: 3807) هغه به څنګه کجورې وي؟ وَنه به ئې څنګه وي؟ دا خو چې کله جَنَّت ته لاړ شو نو هلته به ئې وینو. جَنَّت خو جَنَّت دے، نه چا په سترګو لیدلے دے او نه د چا غوږونو د هغې حقیقت اوریدلے دے. (بخارى، 391/2، حدیث: 3244) په قرآنِ پاک او احادیثو مبارکو کښې زمونږ د پوهه کولو د پاره د دې مثالونه ورکړے شوي دي.[1] البته د جَنَّت حقیقت د لیدو نه بغیر نشي بیانیدے. د آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت به مونږه جَنَّت ته ځو او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ضرور به ئې وینو ځکه چې مونږه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو او جَنَّت د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 294/6)

سُوال: د حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کښې چې "شَدَّاد" کوم جَنَّت جوړ کړے وو، د هغې واقعه بیان کړئ.

1... صدر الشریعه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: جَنَّت یو کور دے چې الله پاک د ایمان والوؤ د پاره جوړ کړے دے، په دې کښې ئې هغه نعمتونه پیدا کړي دي کوم چې نه سترګو لیدلي دي، نه غوږونو اوریدلي دي، نه د یو انسان په زړه د دې خطره تیره شوي ده. کوم یو مثال چې د دې تعریف کښې ورکړے شي هغه د پوهه کولو د پاره دے، ګني د دنیا د اعلیٰ نه د اعلیٰ څیز د جَنَّت د یو څیز سره هیڅ مناسبت نشته. (بهارِ شریعت، 152/1، حصه: 1)

**جواب:** د قومِ عاد مُورثِ اعلیٰ (یعني د ټولو نه وړومبے کَس د چا وِرثه چې د هغه اولاد ته میلاؤیږي) عاد بِن عوص بِن اِرم بِن نوح دے. د هغه په ځامنو کښې ''شَدَّاد'' هم دے، کوم چې د ډیر شان او شوکت بادشاه وو، ده په خپل وخت کښې ټول بادشاهان را یوځائے کړي وو او ټول ئې خپل تابعدار کړي وو. ده د پیغمبرانو نه د جَنَّت ذکر اوریدلے وو او د بغاوت په نِیَّت ئې دنیا کښې جَنَّت جوړول غوښتل، په دې اراده ده یو لوئې ښار جوړ کړو، د کوم محل چې د سرو او سپینو زرو د خښتو نه جوړ کړے شو او د زبرجدو او یاقوتو د قیمتي کاڼړو ستنې دې عمارتونو کښې اولګولے شوې.

په کورونو کښې داسې فرشونه جوړ کړے شو چې د کاڼړو په ځائے پکښې لعلونه اولګولے شو، د هر محل نه ګیر چاپیره د جواهراتو (قیمتي کاڼړو) نه ډک نهرونه جاري کړے شو، قِسما قِسم ونې د سورې د پاره اولګولے شوې، اَلغرض دې باغي او سرکشه په خپل خیال د جَنَّت ټول خیزونه او د هر قسمه عیش او عشرت سامان دغه ښار کښې جمع کړو. چې کله ښار پوره شو نو ''شَدَّاد بادشاه'' د خپلو وزیرانو او درباریانو سره د خپل جوړ کړے شوي جَنَّت په لور روان شو، کله چې یو منزل فاصله پاتې شوه نو د آسمان نه یو خوفناک آواز راغلے په کوم سره چې الله پاک ''شَدَّاد'' او د هغه ټول ملګري مړه کړه او هغه خپل جوړ کړے شوے جَنَّت هم اونه لیدلو. (خزائن العرفان)

پ30، الفجر، تحت الآیة: 8، ص1102 ماخوذاً) الله! الله! څنګه عبرت دے!

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 313/5)

سُوال: که مړ شوے ګس اوبخښلے شي نو آیا هغه به هم هغه وخت جَنَّت ته ځي یا به د قیامت په ورځ بوتلے شي؟

جواب: که مړ شوے ګس اوبخښلے شي نو د هغه په قبر کښې به د جَنَّت کړکۍ پرانستے شي، د هغې نه به هغه خوندونه اخلي. باقاعده طور خو به جَنَّت ته د قیامت په ورځ ځي. (مراٰۃالمناجیح، 126/2 ماخوذاً)

(په مَدَني مذاکره کښې شریک مفتي صاحب اوفرمائیل:) د شهیدانو روحونه به د عرش لاندې په فانوسونو کښې د مرغو په ججورو کښې وي او دوئي ته به جَنَّت ته د تګ راتګ اجازت وي. داسې چې څنګه الله پاک د چا چا د پاره غواړي نو د هغوئي روحونه جَنَّت ته تلے راتلے شي. (مسلم، ص807، حدیث: 4885) باقي پاتې شوه جَنَّت ته داخلیدل نو دا خو به د قیامت په ورځ وي. (مراٰۃالمناجیح، 126/2، ماخوذاً) او د ټولو نه مخکښې به حضور نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَنَّت ته تشریف وړي.(دلائل النبوۃ، الجزء: 1، ص33، حدیث: 27) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنَّت، 286/2)

سُوال: د جنَّتي ځوانانو قد به څومره وي؟

جواب: د حضرتِ سَیِّدُنا آدم عَلَیْهِ السَّلَام قد 60 لاسه وو. دومره قد به د هر یو جنَّتي وي. (مراٰۃالمناجیح، 484/7) (فیضانِ مدنی مذاکرہ قسط: 246، ص 18)

سُوال: آیا ښځه او خاوند دواړه به جَنَّت کښې یو ځائے اوسیږي؟

جواب: آؤ جي! که چرې د ښځې او خاوند خاتمه په ایمان سره اوشوه نو دواړه به جَنَّت کښې یو ځائے اوسیږي. (التذکرة بأحوال الموتی و امور الاخرة، ص462) او که چرې دوئي کښې مَعاذَ الله د یو ایمان سَلامت پاتې نه شو نو د هغه ځائے به دوزخ وي او کوم چې جَنَّت ته لاړ شي د هغه به د بل یو جنَّتي سره نڪاح اوشي. جَنَّت ته تلونڪي سره به د خپل بل فریق د جدائۍ هیڅ غم او خفګان نه وي ځکه چې جَنَّت د غم او خفګان ځائے نه دے.

(فیضانِ مدنی مذاکره قسط:8، ص 30)

سُوال: آیا په جَنَّت کښې به مور پلار او خویندې وروڼه یو ځائے وي؟ (سوال کوونڪے محمد عامر رضا)

جواب: که چرې په ایمان خاتمه اوشوه او الله پاک راضي شو نو ټول به جَنَّت کښې یو ځائے اوسیږي چې په جَنَّت کښې به هیڅ غم نه وي. (ترمذی، 247/4، حدیث: 258) خوګ چې د چا سره میلاویدل غواړي د هغه به د هغوئي سره ملاقات کیږي. (الترغیب و الترهیب، 304/4، حدیث: 115)

(په دې موقع مفتي صاحب اوفرمائیل:) د مور پلار په باره کښې په قرآن مجید کښې دي: ﴿وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ اتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ وَ مَاۤ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ﴾ (پ 27، الطور:21) مفهوم ترجمۂ کنز الایمان: ” او

چا چې ايمان راوړو او د هغوئي اولاد په ايمان سره د هغوئي پيروي اوکړه، مونږ د هغوئي اولاد د هغوئي سره ميلاؤ کړو او د هغوئي په عمل کښې مو د هغوئي هيڅ کمے اونکړو.“ يعني که څوک په کمه درجه کښې وي نو هغه به د اوچتې درجې والا سره ميلاو کړے شي. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنَّت)

سُوال: د وړومبي خاوند په حق رسيدو يا طلاق وغيره شکل کښې چې کومې زنانه د يو نه ډير ودونه کړي وي نو هغه به جَنَّت کښې د کوم يو خاوند سره وي؟

جواب: که چرې زنانه پرله پسې د يو نه زياتو نارينوو په نِکاح کښې راغله نو **د يو قول** مطابق چې د چا په نِکاح کښې د ټولو نه وروستو راغلې وي جَنَّت کښې به د هغه سره وي. لکه څنګه چې د حضرتِ سيِّدُنا ابو الدَّرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”زنانه به جَنَّت کښې د خپل هغه خاوند په نِکاح کښې ورکولے شي کوم چې په دنيا کښې د هغې د ټولو نه آخري خاوند وو.“

(مسند الشاميين للطبراني، 2/359، حديث:1496)

دويم **قَول** دا دے چې د چا اخلاق ښه وي هغه ته به ميلاويږي څنګه چې اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ اُمِّ سَلمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بعضې زنانه دنيا کښې د دوو، دريو يا د څلورو خاوندانو سره

(پرله پسې) ودونه کوي، بیا چې د مرګ نه پس هغوئي يو ځائے شي نو زنانه به د کوم خاوند د پاره وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغې ته به اختيار ورکړے شي او د کوم خاوند اخلاق چې په دنيا کښې د ټولو نه ښه وي هغه به هغه اختياروي، هغه به وائي: اے زما ربَّه! زما د دې خاوند اخلاق د ټولو نه ښه وو ځکه د ده سره زما نکاح اوکړې. (معجم کبیر، 367/23، حدیث: 870)

په دې دواړو احاديثو او اقوالو کښې هيڅ تَعارُض (يعني ټکراؤ) نشته. ځنګه چې حضرتِ اِمام احمد بن حجر مکي شافعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: کومې زنانه چې پرله پسې ډير نکاحونه کړي وي نو يو شکل دا دے چې هر خاوند دې له طلاق ورکړے وي او کله چې هغه مړه شوه نو هغې ته به اختيار ورکولے شي او د کوم خاوند اخلاق چې په دنيا کښې د ټولو نه ښه وي هغه ته به ميلاويږي. لکه ځنګه چې د حضرتِ اُمِّ سَلمه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا په حديث کښې ذکر دي. او دويم شکل دا دے چې کومې زنانه ډير نکاحونه کړي وي او آخري خاوند ورله طلاق نه وي ورکړے او دا د هغه په نکاح کښې وفات شوه، دې شکل کښې به هغه جَنَّت کښې د خپل آخري خاوند په نکاح کښې وي ځنګه چې د حضرتِ سيِّدُنا ابو الدَّرداء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په حديث کښې دي. (فتاوىٰ حدیثیه، ص 7170) (نیکی کی دعوت، ص 297)

سُوال: چې کوم مسلمانان نارينه او زنانه د واده کولو نه مخکښې وفات شوي

وي نو آیا د هغوئي د نکاح به هم څه صورت وي؟

**جواب:** د کومو نارینوو او زنانوو چې ټول ژوند کښې نکاح نه وي شوې د هغوئي به هم جَنَّت کښې د یو بل سره نکاح کولے شي. (نیکی کی دعوت، ص296)

**سُوال:** جَنَّت کښې به نارینوو ته حورې میلاویږي نو زنانوو ته به څه میلاویږي؟

**جواب:** زنانوو ته به جَنَّت کښې هغه خاوندان میلاویږي د چا په نکاح کښې چې دوئي وې په شرط د دې چې خاوند هم جنَّتي وي. که چرې د کومې زنانه خاوند جَنَّت ته لاړ نه شو نو هغه به د بل یو جنَّتي سړي په نکاح کښې ورکولے شي. دغه شان "کومې زنانه چې بے واده مړې شوې وي هغوئي به هم جَنَّت کښې چاته په نکاح کړے شي. دې نه علاوه د جَنَّت نعمتونه د مثال په طور محلُّونه، جامې، خوراکونه او خوشبوياني وغیره د سړو او زنانوو شریک دي، البته د الله پاک په دیدار کښې اختلاف دے او صحیح دا دي چې دواړو ته به نصیب کیږي.

(فتاویٰ اهلسنَّت، سلسله نمبر 7، ص 24) (فیضانِ مدني مذاکره قسط: 31، ص 3)

**سُوال:** د دنیا جنَّتي ښځې غوره دي یا حورې؟

**جواب:** د دنیا جنَّتي ښځې د حورو نه غوره دي. د "طبراني" یو اوګږد حدیثِ پاک کښې دا هم دي: اُمُّ الْمؤمنین حضرتِ اُمِّ سَلمه رَضِیَ اللهُ عَنْها عرض اوکړو: "یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دنیا ښځې غوره دي که غټو سترګو والا

جنَّتي حورې؟“ نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ” د دنيا ښځې د غتو سترګو والا جنَّتي حورو نه غوره دي.“ اُمُّ الْمُؤمنين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په کومه وجه؟ نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ”دا د دوئي د لمُونځ او روژو او د الله پاک د عبادت په وجه دي.“ (معجم کبير، 367/23، حديث: 870)

يو بل حديثِ پاک کښې دي: د دنيا جنَّتي ښځې د حورو نه 70 زره درجې غوره دي. (التذکره للقرطبی، ص458) جليل القدر تابعي حضرتِ حِبان بن اَبُو جَبَلَه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د دنيا کومې ښځې چې به جَنَّت ته ځي، هغوئي به د خپلو نيکو اعمالو په وجه د جَنَّت د حورو نه غوره وي.

(تفسير قرطبی، پ27، الرحمٰن، تحت الآية: 70، 137/9) (نيکی کی دعوت، ص297)

سُوال: آيا جَنَّت کښې به اولاد وي؟ (د کراچۍ نه پوښتنه)

جواب: آؤ جي! جَنَّت کښې به اولاد وي. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 286/2)

سُوال: آيا نابالغه مړه شوي ماشومان به خپل مور پلار جَنَّت ته بوځي؟

جواب: آؤ جي! نابالغه مړه شوي ماشومان به د خپل مور پلار سفارش کوي او د جَنَّت په دروازه به د هغوئي هر کلے کوي تر دې پورې چې کچه ماشوم (يعني ساقط شوي حمل والا) به هم د خپلو والدينو د سفارش د پاره د الله پاک سره تيز کلامي کوي څنګه چې جګړا کوي! بيا به الله کريم هغه ته اجازت

ورکړي او هغه به خپل مور پلار ځان پسې جَنَّت ته راښکاږي او بوځي به ئي. (ابنِ ماجه، 273/2، حديث: 1608) که په حقيقت کښې اوکتل شي نو د کوم نابالغه اولاد په مرګ چې والدين ډير زيات خفه کيږي دا د هغوئي د آخرت ذخيره ده. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت)

سُوال: مونږه اوريدلي دي چې زُليخا به بوډئ شي او جَنَّت ته به ځي. آيا دا صحيح خبره ده؟

جواب: زُليخا اول مسلمانه نه وه، خو وروستو په بوډئ توب کښې مسلمانه شوې وه. د زُليخې د سَيِّدُنا يوسف عَلَيۡهِ السَّلام سره عشق وو، خو د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلام د زُليخې سره عشق نه وو. خوک چې نَعُوۡذُ بِاللّٰه! دا وائي چې هغوئي عَلَيۡهِ السَّلام په عشقِ مجازي کښې ګرفتار وو نو هغوئي د نبي توهين کوي او د نبي توهين کول کفر دے. (بهار شريعت، 47/1، حصه:1) نبي داسې کار نه کوي. عشق صرف د زُليخې له طرفه وو او يو طرفه وو. زُليخا بوډئ شوې وه او د هغې حُسن هم تلے وو، خو وروستو هغه مسلمانه شوه، د هغې د يوسف عَلَيۡهِ السَّلام سره نکاح اوشوه او د هغې حُسن هم واپس راغلو. د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے مکتبة المدينه کتاب "پردے کے بارے میں سوال جواب" کښې د دې پوره حکايت شته. پاتې شو دا سُوال چې جَنَّت ته به زُليخا بوډئ ځي نو دا خبره صحيح نه ده، ځکه چې جَنَّت کښې به ټول ځلمي وي، تر دې پورې

چې د یوے ورځے بچے به هم جنَّت ته ځي او هغه به حم ځوان ځي او د سلو کالو بوډا به هم جنَّت ته ځلمے ځي. ټول جنَّتیان به د 30 کالو معلومیږي.

(مرأة المناجیح، 385/8)(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، قسط: ، ص 27)

سُوال: حسنینِ کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما د جنَّتي ځوانانو سرداران دي که د ځلمو سرداران دي؟

جواب: د جوان معنیٰ ده بهادر یعني ځوک چې د جګړې په مُعامله کښې طاقتور وي او جهاد کښې په مضبوطۍ سره جنګیږي هغه ته ځوان وئیلے شي. (سوانح کربلا، ص 104 ماخوذاً) په دې وجه بعضې د 60 یا 70 کالو بوډاګانو ته هم کتابونو کښې ځوان لیکلے شوي دي. ګنې حقیقي طور انسان د 30 کالو عمر پورې ځلمے وي، دې نه پس ځواني په تلو شي. حسنینِ کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما د جنتي ځلمو سرداران دي حالانکه جَنَّت کښې به ټول ځلمي وي، خو د جنَّتي ځلمو مطلب دا دے چې حسنینِ کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما د هغوئي سرداران دي ځوک چې په دنیا کښې ځلمي توب کښې مړه شوي وي.[1]

[1] … حکیمُ الامّت حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي: کوم خلق چې په ځوانئ کښې مړه شي او جنَّتي وي نو حسنینِ کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما د هغوئي سرداران دي، ګنې جنَّت کښې خو به ټول ځوانان وي، ځکه د دې نه دا نه لازمیږي چې حسنینِ کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما به د حضور صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یا د نورو انبیاؤ هم سرداران وي،

ګڼي اُردو کښې د جوان لفظ د ځوانانو او ځلمو دواړو د پاره استعمالیږي، دې کښې فرق نه وي. په دې وجه ځواني لفظ وئیلے شي ځلمي نه وئیل کیږي لکه څنګه چې وئیلے کیږي "بھری جوانی میں چلا گیا." [یعني په ډکه ځوانئ کښې لاړو] (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 99/6)

سُوال: حضرتِ سَیِّدُنا امام حسن اور حضرتِ سَیِّدُنا امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما چې به جَنَّت کښې د ځلمو سرداران وي نو د بوډاګانو سردار به څوک وي؟ (ارسلان، ګجرانواله)

جواب: د ټولو نه مخکښې خو دا یاد ساتئ چې جَنَّت کښې به څوک هم بوډا نه وي. (مرأۃ المناجیح، 385/5) جَنَّت کښې به ټول جنتیان د 30 کالو وي. (ترمذی، 244/4، حدیث: 2554) دنیا کښې چې څوک په بوډاتوب یا کم عمر کښې وفات شوي وي هغوئي به هم جَنَّت کښې ځلمي وي یعني ټول به د 30 کالو معلومیږي. (ترمذی، 253/4، حدیث: 2571)

البته چې په دنیا کښې څوک بوډا شوے وي او مړ وي، جَنَّت کښې به د هغوئي سرداران حضرتِ صِدِّیقِ اکبر اور حضرتِ سَیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما وي. (ترمذی، 376/5، حدیث: 3685) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 186/6)

شباب د شاب جمع ده، د کوم معني چې ځوان ده، د ځلمي توب عمر د 18 کالو نه 30 کالو پورې دے- (مرأۃ المناجیح، 475/8)

سُوال: آيا زنانه دا سوال کولے شي چې ما جَنَّت کښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډئ کړې؟

جواب: بے شکه زنانه جَنَّت کښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي توب غوښتے شي بلکه غوښتل ئې پکار دي. که چرې جَنَّت کښې چا خوش قسمته ته د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي توب نصيب شو نو د هغه خو به مزې شي. کاش! چې مونږ ته په جَنَّت کښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي توب نصيب شي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 95/6)

سُوال: تاسو ارشاد اوفرمائيل چې په جَنَّت کښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډ دُعا غوښتل پکار ده خو د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اربونو اُمَّتيان دي کومو کښې چې به د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره سره لوئ لوئ هستياني وي داسې حالت کښې به دومره ډيرو اُمَّتيانو ته څنګه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصيب کيږي؟

جواب: ياد ساتئ! جَنَّت کښې به نه څوک غمژن کيږي او نه خفه کيږي او پاتې شوه جَنَّت کښې د دومره ډيرو اُمَّتيانو د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاؤنډ خو ډير مثالونه دنيا کښې هم موجود دي د مثال په طور حضرتِ سَيِّدُنا غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته چا خپل کور ته د روژه ماتي د پاره د راتللو دعوت ورکړو، هغوئ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قبول کړو، بيا بل يو کَس هغوئ ته د روژه

ماتي دعوت ورکړو، هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه هغه هم قبول کړو. تر دې پورې چې 70 مُریدانو هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه ته خپلو خپلو کورونو کښې د روژه ماتي دعوت ورکړو او هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه قبول کړو. د راوي بیان دے چې هر کوربه به وئیل چې په هغه ورځ غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د هغوئي کور کښې روژه ماتے اوکړو، د حیرانتیا خبره دا ده چې په هغه ورځ هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د خپلې آستانې نه هډو چرته تلے نه وو بلکه هلته ئې روژه ماتے کړے وو.

(تفریح الخاطر، ص 112)

گئے اِک وقت میں ستر مُریدوں کے یہاں آقا  سمجھ میں آنہیں سکتا مُعمّا غوثِ اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص 94)

تاسو اوکتل غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه څنګه یو وخت کښې 70 ځایونو ته تشریف یوړلو، اندازه اولګوئ چې د یو اُمَّتي دا شان دے نو د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عظمت او شان به څه عالم وي. آیا رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَنَّت کښې خپلو کرورونو اُمَّتیانو ته خپل ګاؤنډ نشي ورکولے.

(امیرِ اهلِسنَّت دامت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه سره خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ العزیز دباغ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: جَنَّت الفردوس جَنَّت کښې لویه درجه ده خو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د جَنَّت الفردوس نه هم په اعلٰی مقام تشریف فرما وي او شفقت به فرمائي او د خپلو اُمَّتیانو خوا له به تشریف راوړي. (الابریز، 2/324ماخوذاً) ( په دې امیرِ

اهلِسنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَۃ اوفرمائیل) دا وئیل چې "سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په اعلٰـی مقام تشریف فرما وي" په مقابله کښې دا وئیل زیات ښکلي دي چې "سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کوم ځائ کښې تشریف کیږدي هغه مقام به اعلٰـی شي." (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت، 96/6)

سوال: آیا په جَنَّت کښې به په بدن ویښته نه وي؟

جواب: په جَنَّت کښې به صرف د سر، بانړو او وروځو ویښته وي، دې نه علاوه به د جنتیانو د بدن په یوه حصه هم ویښته نه وي. (بهارِ شریعت، 159/1، حصه:1) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 1 / 291)

سُوال: آیا جنتیان به د یو بل سره ښنکه میلاویږي؟

جواب: جنتیان به بیشکه د یو بل سره میلاویږي. د دوئي سره به سورلئ وي، چې کله د چا سره میلاویدل غواړي نو په سورلئ به کښیني او ځي به (کتاب العظمة، ص218، 219، حدیث:612ماخوذا) د اللّٰه پاک په رحمت به په سفر کولو کښې څه ویره نه وي چې وه به غورزیږي، خوږ به شي، نه به ړقیدو سره ویرول وي ځکه چې جَنَّت کښې نه ویره شته، نه تکلیف شته، نه بیماري شته، نه توخے شته، نه نزله شته او نه څه بله یخني. هلته خو صرف رحمت دے، صرف آساني ده، هر خوا سهولت دے. په جَنَّت کښې هغه څیزونه او نعمتونه دي د کومو چې مونږ سوچ هم نه شو کولے. کاش! چې د دې خوږ خوږ

جَنَّت ګټلو د پاره مونږه نیکئ کوونکي، د ګناهونو نه بچ کیدونکي او پاخه لمُونځ ګزاره جوړ شو. که په ډیره ېخنئ کښې هم شیطان مونږ ته د سُستئ وسوسي راکوي خو مونږ به د شیطان نه اورو او لمُونځ کوونکي به جوړيږو. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت،1/451)

سُوال: آیا دا خبره صحیح ده چې په هر انار کښې یوه جنتي دانه وي؟[1]

جواب: د انار په باره کښې دا خبره مشوره ده چې په هر یو انار کښې یوه جنتي دانه وي. حضرتِ حُمید بِن جعفر رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د خپل والد محترم نه نقل کوي چې حضرتِ عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ به د انار هره یوه دانه خوړله، چا د هغوئي نه د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائیل: ماته خبر رارسیدلے دے چې په زمکه د انار داسې ونه نشته د کومې بارداره (یعني د میوې قابل) کولو د پاره چې په هغې کښې د جنتي انار نه دانه نه وي اچولے شوې کیدے شي چې دا هغه دانه وي.

(حلیۃالاولیاء،1/398،حدیث:1139۔اللہ والوں کی باتیں،1/566تا567)

---

1… دا سوال د شعبه هفته وار رسالې له خوا جوړ کړے شوے دے خو جواب د امیر اهلِسنت دے- یعني د انار پوره ونې بارداره کولو د پاره یوه دانه د جنتي انار اچولے شي څکه به حضرتِ عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د انار هره یوه دانه خوړله چې کیدے شي چې د انار هغه یوه دانه دې کښې وي او زما نصیب شي- (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت،2/348)

سُوال: آيا په جنتيانو به خوَله راځي؟ (سوال کوونکي: اسماء عطاريه)

جواب: سُبْحٰنَ اللّٰه! په جَنَّت کښې به په جنتيانو چې کومه خوَله راځي هغه به داسې خوشبوداره وي چې د هغې نه به د مشکو خوشبوئي ځي.

(مسلم، ص1165، حديث: 2835)(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت،قسط 197، ص 7)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِیَّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com